ليکوال: ابراهيم نعيمی نېټه ۲۱-۱۲-۲۰۱۰

# بيارغونه او دکندهار ښکاپور بازار



په راوروسته لسوکلنوکی چی دطالبانو واک له منځه ولاړاو نړيوالو دترهګری سره دمبارزی ترنامه لاندی په کلکه وعدی وکړی چی دافغانستان په بياودانولو کی بيله کومی ځانګړی موخی مرستی کوی او ښکلی افغانستان به جوړ وی. ددی موخی لپاره ډيرو هيوادونو افغنستان ته دتللو لپاره تياری وښودی. زيات شميرهيوادونه د پراخه پوځی زور سره زموږګران هيوادته وردننه شوه او ځينوهيوادونو دبيارغونی لپاره دمرستی په موخه وعدی وکړی. په نړيواله کچه ډيری غونډی جوړی شوی. ولی ترلومړی پنځه کلو چوپتيا وروسته دهيواد په ګوټ ګوټ کی نا ارامی رامنځته شوی او دطالبانو ترنامه لاندی پرپوځی مخو بريدونه پيل شوه. سوال دادی چی دابريدونه په هيواد کی دربنتيني بيارغونی او جوړوونکو چارو پرضد وه او که يی علتونه په بل څه کی دپلټونو جوګه دی. راشی چی دا موضوع لږ په ځيرسره ترسترګوتيره کړو:

دروان کال په وړی کی می افغانستان ته ديوی مياشتی لپاره سفروکړی او ټول پرمختګونه می په خپلوسترګوسره وليدل، حيرت يوړم چی دادومره غونډی په نړيواله کچه دڅه لپاره وی داد ومره ميلياردونه ډالره څه شوی. زه به دا کيسه ډيره نه اوږدوم يوازی غواړم لږ څه دښکلی کندهار او په ځانګړی ډول دښکاپور دروازی په اړوند دهغه دانځورسره تاسوته څوټکی وړاندی کړم:

دکندهار په اړوندمی په تيروليکونوکی هم څه ناڅه ويلی دی ولی په ځانګړی ډول می دکندهار دپوهنتون په هکله ډير څه ليکلی دی چی لنډيزيی دادی: دچار واکو لپاره ګرانه وی چی په دومره لوی ښارکی پر اوسنی پوهنتون دپوهنتون نوم کښيږدی. دکندهار د ښارنوری ناخوالی به اوس نه بيانوم. يوازی دسرليک په مطابق غواړم څوټکی وليکم:

ښکاپور بازار يا ښکاپور دروازه دکندهار دښارهغه تاريخی سيمه ده چی د صوفيانو اوزاهدانو مرکزيی هم بلل شوځکه هلته دلوی بابا (مرغړی زيارت) هم پروت دی چی په جوپو جوپو دمرغړيو ناروغان هره ورځ هلته ورځی او شفأ يی کيږی. دا دښارهغه سيمه هم ده چی دکندهار دښار مشهور پای لوچان (کاکاه ګان) هم دلته زوکړی دی او ناسته ولاړه يی په همدغه بازارکی کوله. تاسوکولای شی چی دپای لوچانو په اړوند دښاغلی محمدمعصوم هوتک ليکلی کتاب ولولی. ښکاپور بازار زما پلرنی سيمه هم ده زماپلارهلته په يوه روحانی کورنی کی زيږيدلی او لوی شوی دی. زما دپاره په زړه پوری شوه چی داسيمه په پوره ځيرسره ووينم. کله چی سيمی ته ورغلم، باور وکړی چی داسی ډيرځايونه وه چی زما دماشومتوب ځخه يی تر اوسه ښورنه دی خوړلی. په ټول ډول دا بازار دبيارغونی څخه يوه کوچنی برخه هم نه ده ترلاسه کړی. هغه دوکانونه او کنډوالی وی چی دډيرو پخوانی کلنو څخه همدغسی پاته وی. هغه کوڅی او خرابی وی. يوه سزايی چی ليدلی وه هغه داوه: په دی سيمه کی ډيرو دهندوانو کورنيوهم ژوند کاوه او څه ناڅه پرله پوری کورونه يی درلودل ولی په جګړو او دمجاهدينو د واک په چورکی هغه هم په خرابو بدل شوی وه. تاسی به په انځورکی ووينی چی ددی سيمی څه حالت دی. دنور ښار حالت هم ددغه څخه اټکلولی شی (هرڅه دمرچو له قراره واټکلوی). اوس به نو پوښتنه وشی چی په رښتيا القاعده او طالبان دی چی په يوازی ډول جګړه پرمخ بيايی او که په کورنيو علتونوکی دخلکو لوږه، بيکاری او په ټول ډول نارضايتی هم اصلی عامل ګڼل


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کیدای شی. سربیره پردی چی په دی جګړه کی زیات بهرنی لاس وهنی جریان لری، مګر په لومړی پنځوکلنوکی په ځانګړی ډول دکندهار، هلمند، روزګان، زابل او فراه خلکو سره ډیره جفاشوی ده. دبیارغونی اثار په دی سیموپه ډیره لږه کچه ترسترګو کیږی، په بدل کی کورونه یی وران شول، نارینه یی په مختلفو بهانو ووژل شوه، ځوانان په زندانونوکی پراته دی. حتی ترجنسی تیریو ترکچی جنایتونه وشول( کولای شی هغه مستند فلم چی د روزګان د یوسپین ږیری سره تیری بیانوی او خپله همدا اروپایانو جوړکړی دی، ووینی) دا ناروا پیښی په لومړیو پنځه کلونوکی چی بشپړامنیت وه، وشوی. اوس کیسه داده چی زور په څو طالبانوکی نه دی ولس ناراضه دی، موجوده نظام ترغوږو په فسادکی ډوب دی، که بهرنیان دی او که افغانی واکمنان دی دپیسو دټولولو موقع لا سته ورغلی ده نوځکه پرهیڅ ناروا کړنه صرفه نه کوی.

دمخدره موادو قاچاق دغربیانو چاره نه ده. دا هغه کسان کوی چی ملی او نړیواله ملاتړی لری او ګټی ترخپل منځوسره ویشی. ولی په ډیره خواشینی سره باید وویل شی چی دقاچاق اصلی سزا همدغو بیچاره دهقانانو ته ورکول کیږی. زه به په بله لیکنه دیو افغانی مدافع وکیل ژوندی مرکه تاسوته خپره کړم، چی حالات په مستند ډول درته بیان کړی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ